ستاسو اور د جهنم د اور له اويا برخو څخه يوه برخه ده

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «ستاسو اور د جهنم د اور له اويا برخو څخه يوه برخه ده " وويل شو: اې د الله رسوله! که څه هم - د دنيا اور د خلکو د تعذيب لپاره - بسنه کوله! هغه وفرمايل: د آخرت اور ته د دنيا د اور په پرتله نهه شپېته درجې زيات تودوالی ورکړل شوی دی، چې هره درجه يې په تودوالي کې د دنيا د اور په څېر ده».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د دنيا اور د جهنم د اور له اويا برخو څخه يوه برخه ده، د آخرت اور د دنيا د اور د تودوخې په پرتله نهه شپېته درجې زياتوالی لري چې هره درجه يې د دنيا د اور له تودوخې سره برابره ده. نو وويل شو: اې د الله رسوله: که څه هم د آخرت اور؛ دوزخ ته د داخلېدونکو د تعذيب لپاره بسنه کوله! نو ويې فرمايل: د جهنم اور ته د دنيا د اور په پرتله نهه شپېته درجې زياته تودوخه ورکړل شوې چې هره درجه يې په تودوخه کې د دنيا د اور په اندازه ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65036